ضمیمه I
مقرره لمبر 738-1

**د عنوان IX جنسي آزار رسمي شکايت**

يو شکايت کوونکی کولی شي چې د عنوان IX جنسي آزار په اړه رسمي شکايت ("رسمي شکايت") چې د Prince William کاونټي عامه ښوونځيو(PWCS) د عنوان IX کوارډيناټور يو يا زيات زده کوونکي پکي دخيل وي د ورکولو لپاره دې فورمي نه کار واخلي، ددې درخواست سره چې PWCS د عنوان IX ("عنوان IX جنسي آزار") لاندې، لکه څنګه چې دا اصطلاح د PWCS مقرره لمبر 738-1 کې تعريف شوی، د جنسي آزار د يو تور څېړنه وکړي. يو موروپلار هم د يو ماشوم د خوا نه رسمي شکايت ورکولی شي؛ يا، چيرته چې لازمي وي، د عنوان IX کوارډيناټور په يو رسمي شکايت لاسليک کولی شي په کوم کې چې په يو متهم د عنوان IX جنسي آزار تور لګول شوی وي، چې په دې توګه څېړنه پيل شي. د رسمي شکايت په ترلاسه کېدلو سره به هڅې ته په تېزئ سره کتنه وشي او د عنوان IX د کوارډيناټور لخوا به يې ځواب ورکړی شي.

د جنسي نوعيت هر ناوړه چلند د عنوان IX په جنسي آزار کې نه راځي. يو د جنسي ناوړه چلند تور چې يو زده کوونکی متهم پکې دخيل وي او د عنوان IX جنسي آزار نه حسابېږي ته به د ډسپلين د هغو اجراآتو لاندې چې د PWCS د "چلند کوډ" کې تاکل شوي غبرګون ښودل کېږي، څېړنه به يې کېږي او حل کېږي به1 .د يو کارمند يا PWCS لاندې دريم جانب لخوا د ناوړه جنسي چلند تور به د هغو اجراآتو سره سم حل کېږي کوم چې د کارمندانو د ناوړه چلند د څېړني او حل په اړه تطبيق کوي.

که تاسو د عنوان IX د شکايت د پروسې په اړه، په ګډون د رسمي شکايت داخلولو پروسې، کومې پوښتن لرئ نو مهرباني وکړئ د PWCS د عنوان IX کوارډيناټورې Dana Scanlan سره په 703-791-8595 يا دې ايميل ادرس TitleIXEquity@pwcs.edu تماس ونيسئ.

<u>وړتوب</u> :په هغه وخت کې چې رسمي شکايت داخل کړی شي، لازمي ده شکايت کوونکی د PWCS کارمند وي يا د PWCS په يو تعليمي پروګرام يا فعاليت کې ګډون کوي يا د ګډون کولو هڅه کوي.

<u>وسعت</u> :د عنوان IX د حفاظتونو د ترلاسه کولو لپاره لازمي ده چې، د عنوان IX جنسي آزار په متحده آيالاتو کې او د يو داسي تعليمي پروګرام يا فعاليت دننه رامينځته شوی وي چې د PWCS لخوا چلول کېږي. يو داسي تور چې يو زده کوونکي چيرته بل ځای کې د جنسي نوعيت ناوړه چلند کړی دی ته به د ډسپلين د هغو اجراآتو لاندې چې د PWCS "د چلند کوډ" کې ټاکل شوي، که چيرته د تطبيق وړ وو، ځواب ويل کېږي، څېړل کېږي او حل کېږي به. د يو کارمند يا PWCS لاندې دريم جانب لخوا د ناوړه جنسي چلند تور به د هغو اجراآتو سره سم حل کېږي کوم چې د کارمندانو د ناوړه چلند د څېړني او حل په اړه تطبيق کوي.

<u>محرميت</u> :تر کومه حده چې امکان لري، د رسمي شکايت او څېړني سره اړوند معلومات به محرميت کې ساتل کېږي، استثناء له هغو چې د يوې پوره او شفافې څېړنې د ترسره کولو يا د کومې مسووليت د پريکړې او/يا ډسپليني بنديزونو ته د اپيل لپاره اړين وي؛ متهم ته اجازه ورکول کې چې د خپل ځان دفاع وکړي، د مناسبو حمايتي تدابيرو او حل لارو تطبيقول؛ يو د احضار امر، د محکمې امر يا دولتي څېړني ته ځواب ويل؛ يا د رسمي شکايت په نتيجه کې رامينځته شوي هر قانوني اقدام يا د شکايت پروسه کې د PWCS يا يې د کارمندانو دفاع کول.

<u>درواغ بيانونه ممنوع دي</u> :يو زده کوونکی يا زده کوونکي چې په پوهې سره درواغ راپور يا شکايت ورکوي، يا که يو څوک په پوهې سره درواغ بيان ورکړي، نو هغه به د PWCS "د چلند کوډ" لاندې ډسپلين کېږي. په همدې توګه، هر د PWCS کارمند چې په پوهې سره درواغ راپور يا شکايت وکړي، يا په پوهې سره درواغ بيان وړاندې کړي، نو هغه د مقرره لمبر 503-1، "ټولو کارمندانو لپاره د رسمي چلند معيارونه"؛ او مقرره لمبر 572-1، "د ډسپلين اقدام" لاندې ډسپلين کېږي، چې په هغې کې د وظيفې نه تر اخراج پورې اقدام شامل دی.

<u>انتقام او/يا مداخله ممنوع ده</u> :د يو داسي تن چې د جنسي ناوړه چلند تور يې لګولی وي؛ د عنوان IX جنسي آزار رسمي شکايت ورکوي؛ يا داسي څوک چې د عنوان IX جنسي آزار د تور په څېړنه کې کومک کوي، ګډون کوي يا د ګډون نه انکار کوي، پر ضد انتقامي اقدام کول په سختۍ سره منع دي. زده کوونکي او کارمندان اجازه نلري چې يوه څېړنه کې مداخله وکړي يا پکې خنډ جوړ کړي او يا د يو شاهد په بيان اثر واچوي يا پرې د اثر اچولو هڅه وکړي. د يو زده کوونکي دا ډول ناوړه چلند به د PWCS "د چلند کوډ" لاندې حل کېږي او ښايي چې نتيجه يې د ډسپلين اقدام شي، چې په هغې کې PWCS نه تر اخراج پورې اقدام شامل دی. د PWCS د يو کارمند دا ډول چلند به غير مسلکي چلند ګڼل کېږي چې د مقرره لمبر 503-1 او 572-1 لاندې به ډسپلين کېږي، چې په هغې کې وظيفې نه اخراج پورې اقدام شامل دی.

---

[1] د مقرره لمبر 738-1 د هدف لپاره، د PWCS "د چلند د کوډ" په حواله کې شامل دي مقرري لمبر 681-1، "د غير روايتي زده کړو پروګرامونه"؛ 743-1، "د زده کوونکو ډسپلين"؛ 744-1، "د زده کوونکو لنډمهاله ځنډونه"؛ 745-1، "د زده کوونکو اوږدمهاله ځنډونه يا اخراج"؛ 745-2، "د معلوليت لرونکو زده کوونکو ډسپلين"؛ 745-3، "د اوړي د ښوونځي د زده کوونکو ډسپلين"؛ او د PWCS "د چلند کوډ".

**برخه I: شکایت کوونکی** (د تور لګول شوي ناوړه چلند هدف.)

نوم: ______________________________

د زده کوونکي ID لمبر (که تطبیق کوي): ______________________________

د مورو پلار نوم (که تطبیق کوي): ______________________________

د مورو پلار ایمیل ادرس: ______________________________

د مورو پلار د ټلیفون لمبر: ______________________________
کور/موبایل کار

ښوونځی: ______________________________

تړون له PWCS سره: ☐ زده کوونکی ☐ مورو‌پلار ☐ د PWCS کارمند

<u>د خبرتیاوو د ترلاسه کولو لپاره ادرس</u> :د رسمي شکایت په اړه ټولي خبرتیاوي او خطونه به په الیکټرونکي توګه او د متحده ایالاتو د پوستې له لارې لاندې ادرس ته استول کیږي.

نوم: ______________________________

پوستي ادرس: ______________________________

ایمیل ادرس: ______________________________

**برخه II: متهم** (هغه تن چې د ناوړه چلند تور پرې لګول شوی.)
نوم: ______________________________

ښوونځی یا ریاست: ______________________________

له PWCS سره تړون: ☐ زده کوونکی ☐ د PWCS کارمند ☐ نور______________________________

(که متهمین زیات وي، نو د هر یو د لیستې کولو لپاره یو جلا کاغذ استعمال کړئ، په هغې کې د هر متهم ښوونځی او PWCS سره تړون شامل کړئ. (د فورمې په شا طرف او حاشیو کې څه مه لیکئ.)

**برخه III: د عنوان IX د جنسي آزار تور**
(که اضافي ځای ته اړتیا وي، نو یو جلا کاغذ استعمال کړئ، او هغه دې فورمې سره پیوست کړئ. د فورمې په شا طرف یا په حاشیو کې څه مه لیکئ.)

1. لاندې هغه خانه (خانې) په نښه کړئ چې د تور لګول شوي ناوړه چلند بهترینه تشریح وي.
   - ☐ شکایت کوونکي سره د PWCS یو پروګرام یا فعالیت کې د جنسي نوعیت داسې ناوړه چلند شوی چې شدید، پراخ او تعرضي و.
   - ☐ شکایت کوونکي سره د PWCS پروګرام یا فعالیت کې د یاری تاوتریخوالی، کورنی تاوتریخوالی شوی، جنسي برید پرې شوی، او/یا اذیت شوی دی.
   - ☐ د☐ PWCS یو کارمند د PWCS کومک، نفع، یا خدمت د شکایت کوونکي جنسي عمل کې ګډون سره مشروط کړی و.

2. د عنوان IX تور لګول شوی جنسي آزار په مشخصه توګه چیرته رامینځته شوی؟

______________________________

______________________________

3. د عنوان IX تور لګول شوی جنسي آزار کله رامینځته شوی؟ (که امکان لري نو مشخصه نېټه(نېټې) او وخت(وختونه) ورکړئ؛ که نه وي نو د وخت اندازه ورکړئ.) ______________________________

______________________________

______________________________

4.هغه پېښه چې تور یې لګول شوی تشریح کړئ، څومره زیات چې امکان لري جزییات ورکړئ. ________________________________________

____________________________________________________________
____________________________________________________________
____________________________________________________________
____________________________________________________________
____________________________________________________________
____________________________________________________________
____________________________________________________________
____________________________________________________________
____________________________________________________________
____________________________________________________________
____________________________________________________________
____________________________________________________________
____________________________________________________________
____________________________________________________________
____________________________________________________________
____________________________________________________________
____________________________________________________________
____________________________________________________________
____________________________________________________________
____________________________________________________________
____________________________________________________________

*ددې سند په لاسلیک کولو سره زه تاییدوم چې په دې رسمي شکایت کې معلومات زما تر پوره پوهې ریښتیا او صحیح دي او دا چې زه درخواست کوم چې PWCS د عنوان IX د جنسي آزار د تورونو څېړنه وکړي.*

نوم: ________________________________________

له PWCS سره تړون: ☐زده کوونکی ☐ موروپلار ☐ د PWCS کارمند

لاسلیک: ______________________ نېټه: ______________________

دا رسمي شکایت د عنوان IX کوارډيناتور ته د متحده ایالاتو د پوستې، الکترونیکي ایمیل، یا فاکس له لارې استول کېدلی شي؛ دا همدارنګه لاس په لاس په دې ادرس 14800 Joplin Road, Building 3, Manassas, Virginia ورکول کېدلی شي.

پوستي ادرس: د PWCS عنوان IX کوارډيناتور
PWCS Title IX Coordinator
P.O. Box 389
Manassas, Virginia 20108

برېښنالیک: TitleIXEquity@pwcs.edu
فاکس: 703-791-8124